وخت يې:

امام ماوردي دختنې دوخت په هکله وايي چې هغه دوه وختـه لري يو دوجوب وخت چې دبلوغ مرحله ده او بل داستحباب وخت چې مختار وخت يې دزيږيدنې او ومه ورځ ده.

پدې هکله هم علما سره اختلاف لري. مهمه داده چې ماشوم بايد دبلوغ تروخته ختنه شوی وي. خلک عـادت لري چې خپل ځامن ډېر وخت لپـاره بې ختنې نه پرېږدي بلکې ژريي ختنه کوي چې دا ښه عادت دئ. په حديثوکې کوم دليل ددې واجب دوخت په هکله نشته.

ابوشيخ له جابر څخه روايت کوي چې حضرت رسول اللهﷺ امـا م حسن او امـام حسين دزيږيدو په اوومه ورځ ختنه کړل. وليد ابن مسلم وايي چې له امام مالک څخه مې وپوښتل هغه وويل: «په وخت يې نه پوهيږم خو ختنه پاکي او طهارت دئ هر څومره چې ژر سرته ورسيږي پرې خوشحاليږم».

امام نووي په «الروضه» کتاب کې وايي: «ختنه کول وروسته له بلوغ څخه فرض ده خو مستحب دا ده چې دا کـار دزيږيدو په اوومه ورځ وشي مګر دا چې ماشوم دومره کمزوری وي چې هغه تحمل نشي کړاي.پدې صورت کې بايد وځنډول شي تر څو توان او تحمل يې پيدا کړي.»

* * * *

دښځو ختنه کول

دښځو دختنه کولو په حکم کې علمأ اختلاف لري او کوم حدیثونه چې پدې اړوند ذکر شوي، ټول ضعیف او کمزوري دي او هیڅ یو یې صحیح ندئ چې پروجوب یې دلالت وکړي. پدې اړوند مشهور حدیث دام عطیې دئ چې ښځې به یې ختنه کولې او رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: « **یا أم عطیة! أشِمّي و لا تنهکی، فإنه أسری للوجه، وأحظی عند الزوج** » یعنې ای ام عطیې له هغه ځخه سطحي تیره شه ځکه چې هغه دمخ خوښوونکې او دخاوند لپاره خوندور دئ. علامه عراقي په « المغنی عن الاسفار » کتاب کې وایې: « د ام عطیې حدیث چې حاکم او بیهقي دضحاک ابن قیس له حدیث ځخه روایت کړي او ابو داوود هم هغه روایت کړي، دواړه روایته ضعیف دي » .

او دابو داوود په نزد دحدیث نص داسې دئ چې: هغه مه غدابوه ځکه چې دښځې لپاره خوندور کوونکې او دنارینه لپاره محبوب دئ یعنې خوښوي یې.

ابو داوود دا حدیث تعقیب کړئ لیکي چې له عبیدالله ابن عمرو او عبدالمالک ځخه یې په معنی' روایت شوئ، اسناد یې قوي ندي، روایت شوئ مرسل او محمد ابن حسان مجهول او **ضعیف** یا کمزوري دي.

لدې ځخه داسې څرګندیږي چې دابو داوود روایت دهغه دضعف دبیانولو لپاره دئ. دا حدیث چې **له څو طریقو روایت شوئ ټول یې ضعیف دي او ځنې یې بیا په ضعف کې تر بل زیات شدید دي.** لدې ځخه دابن منذر دقول رښتینوالئ، چې ابن حجر د « تلخیص » په کتاب کې ورځخه یادونه کړې، ځرګندیږي چې ویلي یې دي: « **دښځو ختنه کولو په هکله داسې حدیث چې مراجعه ورته وشي او داسې سنت چې ورځخه پیروي وشي وجود نلري** » .

تاسو دې دوه جلیل القدر امامانو ابو داوود او عراقي ته نظرو کړئ چې دنورو سره یې دې حدیث ته ضعیف وواېه. دا چې ځنې متأخرین هغه صحیح بولي پروا پرې مه

کوي. ځکه چې دا د پیغمبر ﷺ له شان څخه لیرې ده چې پدې هکله په دومره صراحت یوې ښځې ته وو ایي چې هغه د ښځې لپاره خوندور او د نارینه لپاره محبوب دئ.

او حتیٰ که فرض وکړو چې حدیث صحیح وي نو په هغه کې د ښځو د ختنه کولو امر نه، بلکې په غوڅولو او پریکولو کې یې له زیاتي څخه منع ده. یعنې که ښځه ختنه کیږي هم نو مبالغه پکښې جواز نلري.

همدلته ده چې ځنې علمأ وایې چې ختنه د نارینه وو لپاره فرض او د ښځو لپاره عزت او مکرمت دئ. له اسامه هذلی څخه په مرفرع ډول داسې یو حدیث روایت شوئ چې حضرت رسول الله ﷺ فرمایلي: «ختنه کول نارینه وو ته سنت او ښځو ته احترام او مکرمت دئ».

حافظ عراقي وایي چې دا حدیث احمد او بیهقي په کمزوري، **ضعیف سند** سره ذکر کړیدي.

ابن حجر وایي: «د شافعینو په نزد په یوه روایت سره د ښځو په حق کې لازم ندئ. چې دا روایت د «مغنی» کتاب څښتن له امام احمد څخه نقل کړئ داسې چې: اکثریت علمأ او ځنې شافعین وایي چې د ښځو په حق کې لازم نه او لکه چې امام ماوردي وایي د ښځې ختنه کول عبارت دي د فرج د پاسنی برخې راوتنې (کلیتوریس) چې ښځینه تناسلي آلت دئ د پوستکي غوڅول یعنې د شونډو تر منځ د زړي یا د خراس د تاج په څیر جوړښت د سر د پوستکی لیرې کول، نه له بیخه پریکول یې.

نووي وایي: د فرج د پورتنی برخې د وړوکي جز د پوستکي پریکول دي.

* * * * *

خولکه څنګه چې علمأ وایي دا عملیه همدومره محدوده نده پاتې، بلکې کوم چې اوس په افریقایي اسلامي هیوادونو کې رواج ده هغه فرعوني ختنه ده چې د ښځو د خارجي تناسلي غړو هر څه (شونډې، تناسلي آلت) غوڅوي او یوازې د بولو او وینو

لپاره مجرا پرېښودل کیږي او بس.

طبیبان وايي چې د ښځو په ختنه کولو او په ځانګړي ډول فرعوني ختنې کې زیاتې بدي ګانې شته چې مونږ یې لنډیز وړاندې کوو.

۱- دا ختنه خلقت ته تغیر ورکول دي او پر ښځو ناوړه روحي اغیزه کوي لکه وچوالئ، تریووالئ، پریشاني، خپګان، عصبانیت او روحي اضطراب یاویره.

۲- دا ختنه دجنسي عملیې قوه کمزورې کوي، په راتلونکې کې د ښځې او میړه دګډ ژوندانه پر فاسدولو زیاته ناوړه اغیزه کوي او د ښځې دجنسي غریزې په اشباع کې لویې ستونزې رامنځ ته کوي.

۳- دغه ختنه د ښځې د تناسلی آلت او غړو د ککړوالي او پکښې د میکروبونو د ننوتلو سبب کیږي په تیره بیا که دا عملیه په ناپاکه ځای او نه تعقیم شوي آلی سره سرته ورسیږي. دا میکروبونه کیدای شي درحم دنلونو (دفالوپ ټیوبونو) دالتهاب او دهغو دبندیدو سبب شي. کله کله دشدیدې خونریزۍ سبب هم کیږي چې ښځه له منځه وړي او هلاکوي یې.

د یادونې وړ ده چې د نه تعقیم شوې آلې ضرر یوازې د ښځې لپاره نه بلکې استعمال یې په نارینه وو کې هم دزیاتو ناروغیو او ضررونو سبب کیږي. دلته مو ددې مسئلې یادونه ځکه وکړه چې په سودان او ګاونډیو هیوادونو کې یې زیات رواج لري. (۱)

۴- دغه ختنه کله کله د ښځې دشنډیدو سبب هم کیږي او که دشنډتوب سبب یې نشي نو دماشوم دزیږیدو په وخت کې له رحم څخه دماشوم وتل دزیاتو ستونزو سره مخامخ کیږي او اکثره دغه ولادتونه په جراحي مداخلې سره په سر رسیږي.

---

(۱) ډاکټر خیاط وايي چې څیړنو ثابته کړیده چې دایډس ناروغي په ختنه شوو ښځو کې په دوه دلیلونو زیاته ده، یو د نه تعقیم شوو آلو داستعمال له کبله او بل دهغه فشار له کبله چې دجماع په وخت کې پر هغو وارد یږي چې خونریزي رامنځ ته کوي او هغه دناروغیو دانتقال سبب کیږي.

۵ - لکه چې ډاکټر صلاح ابوبکر وايي دبولي جهاز دآزار او ناسور زخم سبب کيږي. دمیاشتني عادت دوينې او همدارنګه دبولو دحبس او بندښت سبب کيږي او په رحم کې التهابات او زخمونه رامنځ ته کوي.

* * * *

په داسې حال کې چې دومره مفاسد، خطرونه او ضررونه دختني له کبله ښځو ته راپيداشي نو دشريعت له مخې هغه ناروا ده. درسول الله ﷺ څخه په صحيح ډول کوم حکم پدې هکله ندئ وارد شوئ. خو څه شئ چې له پيغمبر ﷺ څخه اوريدل شوي هغه لا ضرر و لا ضرار دئ چې دا حديث ددې دين دکلي اصولو له جملې څخه دئ.

* * * *

ټول دا بيانونه داسې لنډيز کيداى شي چې **دښځو ختنه کول نه مطلوب دي، نه واجب او نه سنت....**

دا داکثرو علماوو نظريه ده او پدې هکله دهغو په نزد کوم حديث وجود نلري. هغه څوک يې چې په مشروعيت هم قايل دي، انحراف ته پکښې اجازه نه ورکوي.

دیادونې وړ ده چې علما دهغه په حکم کې له يوه هيواد څخه بل ته سره توپير کوي.
ابن حاج په «مدخل» کتاب کې وايي چې علما دښځو په ختنه کولو کې سره اختلاف لري چې آيا ټولې ښځې ختنه شي يا پکښې فرق وشي. يوازې شرقي ښځې ختنه شي او غربي نشي ځکه چې هغه اضافي غوښه چې قطع کيږي هغه په شرقي ښځو کې شته او غربي ښځو کې نشته(۱) او دا نظر معقول او دمنلو وړ دئ ځکه چې دهلکانو په هکله هغه مراعتيږي چې که چيرې ماشوم ختنه شوئ وزيږيږي، هغه نه ختنه کيږي.

---

(۱) دښځو په حق کې اختلاف دئ چې آيا ټول ختنه شي يا دمشرق او مغرب يا ختيځ او لويديځ ترمنځ فرق وشي، دشرق ښځې بايد ختنه شي ځکه پخپل اصل خلقت کې هغه اضافي غوښه دهغو په جنسي غړو کې وجود لري خود مغرب يا لويديځ په ښځو کې نشته نو ځکه نه ختنه کيږي، او دا لکه هغه هلکان دي چې ذاتي يا ولادي ختنه وي او نه ختنه کيږي. چې دادواړه يو حکم لري. (دمدخل کتاب ج۳ ص ۳۱۰-۳۱۱)

یوه متخصص طبیب راته وویل چې هغه په ځنو ښارونو کې لیدلې چې دااضافي غوښه (کلیتوریس) ډیره زیاته او اوږده وي چې د آزار سبب کیده نو ځکه دې طبیب هغه عملیات او غوڅه کړیده. په داسې حالت کې د روغتیایي شرطونو په پام کې لرلو سره يې په مشروعیت کې ممانعت نشته، او پدې صورت کې دا کار لکه یو جراحي عملیات دئ چې د شخص د سلامتی لپاره سرته رسیږي. لنډه دا چې که چیرې د ښځې ختنه کیدل د هغو ضررونو سبب شي چې مخکې بیان شول نو ترک یا نه کول غوره او افضل دي. خو که چیرې د اضافي غوښې له منځه وړلو ته ضرورت وي، هغه دې له منځه یووړل شي خو زیاتۍ او مبالغه پکښې جواز نلري.

دا هغه خبرې وې چې په لنډیز سره مې د ختنې په هکله ولیکلې، ځنې داسې مسئلې هم دي چې ورسره مې تماس ونه نیو ځکه هغو د خلکو حیاتي ستونزې نه حلولې لکه د ختنې تاریخ او خلک چې هغه یې عملي کول، ټولنیز رواجونه او عادتونه، او د مجلسونو رابلل او نور ....

هغه رساله چې امین داوود پدې هکله لیکلې، د دې رسالې نه وروسته مې ورته ځای ورکړئ. هغه رساله په خرطوم کې چاپ شوې. الله (ج) دې مونږ په نیغه او مستقیمه لیار هدایت کړي دا رساله او ضمیمې دې د خلکو لپاره ګټورې وګرځوي او زمونږ عمل دې خاص خپل ځان ته ومنې. الله (ج) حق او ربښتیا وایي او مونږ په مستقیمه لیار رهنمایي کوي.

والحمد لله رب العالمین

فرعوني ختنه (خفاض)

دډاکټر امين داوود
لیکنه

مخکې لدې چې دشریعت له نظره دفرعوني ختنې په هکله بحث او خبرې وکړو، هغه څه چې ډاکټر انور احمد حلواني دخرطوم دپوهنتون دطب دپوهنځي استاد پدې هکله لیکلي رانقلوم چې دصحافت جریدې په ۱٤۸۸ گڼه کې یې په ٦۷/۱۲/۲٦ تاریخ داسې لیکلي دي:

غواړم دفرعوني ختنې په هکله په بشپړ علمي صراحت سره څه ولیکم او له گرانو لوستونکو څخه مې هیله دا ده چې دا علمي مضمون په غور او ژورتیا سره ولولي او مطالب یې ښه هضم کړي.

فرعوني ختنه په سودان کې ډیره پخوانۍ سابقه او لرغونۍ تاریخ لري چې دا ناوړه عادت پر سودان باندې دفرعون دسلطې سره را پیدا او تر ننه پورې دوام لري ... دا عادت په سومالیا، کینیا او داندونیزیا په ځینو برخوکې هم رواج دئ. پخوانۍ مفکوره او عقیده داسې وه چې دښځې تناسلي غړي دهغې دفضلیت او کرامت منافي دي او باید له منځه یووړل شي، مخکې تردې چې ددې ختنې څخه راپیدا شوې ستونزې بیان کړم، غواړم دښځې خارجي تناسلي غړي یو څه شرحه کړم تر څو لوستونکي په هغه څه چې سرته رسیږي ښه وپوهیږي او پرې علم حاصل کړي.

ښځینه خارجي تناسلي غړي (فرج)

دښځې خارجي تناسلي غړي لاندې اجزا وې لري:

غټې شونډې (شفې): دوه دانې دپوستکي دوه اوږدې طبقې دي چې له عانې (دوبښتانو د شنه کیدو ناحیې) څخه شروع تر عجان (دمقعد او فرج تر منځ ناحیه)

پوري رسیږي او په هغې کې ورکیږي. ددې شونډو بنسټ شحمي نسج دئ چې زيات شمير دوينې او اعصابو رګونه او افرازي غدې (دبارتولين غدې) پکښې شته او پر هډوکي باندې واقع شويدي. پدې دواړه شونډو کې زيات ه وينه راټوليداى شي.

وړې شونډې (شفې): داهم دوه دي، چې هره يوه يې دوه طبقې نرې پوستکي دي چې دغټو شونډو ترمنځ واقع دشا لخوا دبکارت له پردې سره وصل او دمخی لخوا دفرج راوتنه (ښځينه تناسلی آلت يا کليتوريس) پټوي. ددې دواړو وړو شونډو تر منځ دبولو او رحم مجراوې بهر ته خلاصيږي.

ښځينه تناسلي آلت (بظر يا کليتوريس): دفرج په پورتنی برخه کې دزړي په څير راوتنه ده چې لکه نارينه تناسلي آلت دانتعاذ يعنې جګيدو او شخيدو قابليت لري. هغه داعصابو او وينې درګونو غني شبکه لري نو لدې کبله خورا حساس او زيات ه وينه لري. تر هغه لاندې احليل يا دبولو سوری واقع دئ.

داغړی کوم عبث او بی ګټې غړئ نه بلکې دمهمې طبيعي وظيفې يعنې په جنسي عمليه کې دښځې لپاره دزيات خوند اخستنې او همدارنګه يې لمس کول جنسي عمل ته دښځې دهڅونې سبب کيږي. ددې غړي په تحريک سره غټې شونډې يا شفې هم په وينه ډکيږي او د بارتولين غدې په افراز پيل کوي چې دا هم دښځې لپاره دزيات خوند سبب کيږي.

ټول تناسلي غړي دزياتو خلکو دغلطو مفکورو برخلاف دمهم او ستر هدف لپاره فعاليت کوي چې داستر هدف لکه څنګه چې له نوم څخه يې څرګنديږي تناسل يا دنسل ادامه ده. ددې هدف په لاس ته راوړنه کې ټول داغړي مساويانه ونډه اخلي او دا مهمه بيولوژيکي دنده سرته رسوي.

دفرعوني ختنې کیفیت او څرنګوالې

اوس غواړو وپوهیږو چې دفرعوني ختنې تر اجرا کولو وروسته څه پېښیږي. دغه عملیه عبارت ده د دواړو غټو شونډو یا شفو د یوې برخې، ټولو وړو شفو او دفرج دمنځ دراوتنی (بظر) له غوڅولو څخه. وروسته له هغو یو څه شئ سوځي ددوو غټو شونډو ترمنځ سوري کې یې ږدي چې کله زخم جوړ شي نو یو سوری د بولو او تر څوانۍ وروسته د حیض یا میاشتني عادت دوینی دراوتلو لپاره وي. تر عملیات او سوځول شوي څیز ترا یښودو وروسته، دنجلی دواړه پښې یو له بل سره تړي او څلویښت ورځې یې همداسې پریږدي ترڅو ډاډه شي چې زخمونه یو دبل سره نښتي دي.

پدې توګه په ډیره سادګۍ سره ښځه له خپل تناسلي غړو او دژوندانه له لمړني اساس او اصل څخه محرومیږي.وروسته تر هغوي بیا ژوند له عقدو ډک، کورنۍ یې هم له هغو ستونزو سره مخامخ کیږي چې اړتیا یې نه وه ښځه له عصبي یا روحي سوکالۍ څخه بې برخې، دجماع په وخت کې ویره او اضطراب ورته پیدا کیږي، اکثره منفي فکرونه او سوچونه کوي او په نتیجه کې په زیاتو روحي، جسمي او جنسي ناروغیو اخته کیږي.

ددې نقصان احساس، دسلبیت او حقارت احساس او ددې احساس چې نارینه په هر څه کې پر هغې تسلط لري په تدریجي ډول دهغې رول او اهمیت په ټولنه کې له منځه وړي او بالاخره دخوب په بستره کې دضعف، درد او سلبیت داحساس له کبله په ګڼ شمیر جنسي ستونزو او په سړ ښت او جنسي بې میلۍ چې ننئ حقیقي ستونزه او بحران دئ او دکورنیو او ګډ ژوندانه له بنستیزو ستونزو څخه ده، اخته کیږي.

دفرعوني ختنې ضررونه

پورته یادې شوې ستونزې ددې ناوړه غیر انساني عمل غیر مستقیم ضررونه وو. مستقیم زیانونه او ضررونه یې په لاندې ډول دي.

دجراحي عمل صدمه: ددې صدمې څخه مقصد دادئ چې ددغې جرحې او عمليات له کبله په مجموع کې دبدن په فعاليتونو کې څه بدلون رامنځ ته کيږي. صدمې زياتې دې چې دورته تغيراتو سبب کيږي خو دپاملرنې وړ خارجي صدمې هغه دي چې پر ته له بې حسه کولو او بې له کوم ضرورته، دجراحي عمل په نتيجه کې پر انسان وتپل شي دا سې صدمې کيداى شي دوينې دفشار دکميدو او په تنفسي جهاز کې دفعاليت دسکتگۍ سبب شي. دغه عمليات دنجلۍ يا ښځې په وجود کې ناوړه روحي خاطرې هم توليدوي چې دژوند په اوږدو کې يې نشي هيرولاى. په نتيجه کې له جنسي عمل څخه ويره لري او هغه يو رذيلت بولي ځکه چې دا مفکوره چې گڼې هغه يو اضافي غړئ او دفضيلت او کرامت منافي ده او کورنۍ يې دهغه په له منځه وړلو کې خوښه وه، دهغې په زړه او سر کې ددې عمل په مقابل کې عقده راپيدا کوي.

خونريزي: اکثره هغه قابلې چې داعمليات سر ته رسوي دمسلکي پوهې دنه لرلو له کبله نپوهيږي چې ددې عمل په نتيجه کې څومره وينه ضايع کيږي. لدې کبله ډيرې نجونې دزياتې خونريزۍ له امله ددې عمليات قرباني کيږي.

التهاب او تعفن: دغه ستونزې ډيرو ساده صحي مقرراتو دنه پوهيدلو او نه مراعتولو په نتيجه کې منځ ته راځي، ځکه تعفن يا بد بوى دژوند يو ميکروبونو دفعاليت له کبله په بدن کې را پيدا کيږي دتناسلي غړو ناحيه هغه ځاى دئ چې زيات ميکروبونه پکښې ميشته دي او پکښې تکثر کوي همدارنگه نه تعقيم شوي (په ميکروبونو ککړ) او يا نيمگړي تعقيم شوې چړې دغه زهر او آزار له ځانه سره لري.

دبولو او مياشتني عادت دوينې حبس يا بنديدل: ډير امکان لري چې پدې عمليات سره دبولو سوري يا احليل ته هم تاوان ورسيږي ځکه چې دا سورئ آلت يا بظر ته نژدې واقع او لدې کبله دعمليات په لړيو ورځو کې دهغه دانسداد يا بنديدو سبب کيږي. کله کله دجراحي تر شفا وروسته پريښودل شوئ سورئ ډير تنگ وي چې دبولو او مياشتني عادت دوينې راوتل ورڅخه گران وي، پدې ضرورت او ستونزې هرڅوک پوهيږي زياتو

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

لیکونکئ:
ډاکټر حسین عبدالرزاق جزائري
دنړیوالې روغتیایي اداري
دختیځې مدیترانې دسیمه ایز دفتر مدیر

خدای(ج) انسان په ډیره ښه بڼه خلق کړئ او اراده یې کړې چې پر خلق شوې فطرت یې همداسې وساتي. دخلق الله له بدلون څخه یې منع کړې او فرمایلي یې دي چې دخلق الله بدلول ناوړه او دشیطان عمل دئ، او څوک چې خلق الله ته تغیر ورکوي، دپیغمبر په ژبه ورته لعنت ویل شویدئ.

حکیم شریعت دروغتیا دساتنې په مقصد ځنې ځیزونه چې په بدن کې اوږدیږي او په طبي ژبه دپوټکي یا څرمنې ملحقات بلل کیږي، امر کوي تر څو واخستل شي او له منځه یووړل شي بلکې دهغو له منځه وړل یې دفطرت له سنتونو څخه بللي لکه دنوکانو اخستل، دتخرګونو دوېښتانو او دنامه لاندې وېښتانو کلول دبریتانو لنډول او همدارنګه دنارینه دتناسلي آلت دسر دپوستکې چې قلفه بلل کیږي لیرې کول.

قلفه هغه پوستکئ دي چې دتناسلي الت سر (حشفه) پوښي او که په نظافت کې یې بې پروایي وشي کیدای شي دالتهاباتو او بدبوی او کله کله هم دالت دسر دترفشار لاندې راوستلو (اختناق) سبب شي. دقلفې له منځه وړل له اسلام نه مخکې عربانو کې هم رواج

ځرګندونو ته يې ضرورت نشته.

دنفاس ناروغي: ځرګنده او حتمي ده چې په هر لنګوال يا ولادت کې دفرج دتنګوالي له امله ښځه له زيات کړاو او زجر سره مخامخ کيږي او ضرور وي ترڅو دهغه دپراخولو لپاره نيشتر يا چاړه استعمال شي. دا وضعيت پخپله کافي دئ چې هغه بې وزلې په دردونو او دنفاس په ناروغيو اخته شي چې دا ستونزې او کړاوونه دهغې پر روحي ژوندانه ناوړه اغيزې پرې باسي او دبيا اميندواره کيدو او لنګيدو څخه ويره لري. درحم انقباض او انبساط دولادت په وخت کې دجنين يا ماشوم د راوتو سبب کيږي خو دمور دزياتې ويرې په صورت کې دغه انقباض او انبساط يا خو بيخي له منځه ځي او يا کميږي چې پدې حالت کې نو بيا ښځه مجبوره ده ترڅو دعمليات تر چړې لاندې پريوزي.

شنډتوب: احصائيې ښئي چې په سودان کې ۲۰-۲۵٪ شنډ توب له همدې وجې دئ چې دفرج سورئ هومره تنګ وي چې دولادت په وخت کې درحم دانقباض او انبساط له کبله هغه رنځ او درد او هغه انتانات چې دفرج دزخمي کيدو له امله په ښځه کې را پيدا کيږي دښځې پر روحيې شديده منفي اغيزه کوي او په مجموع کې دهغې دشنډتوب سبب کيږي، چې پخپله دغه دالهي نعمت څخه محروميدل ددې عمليې دناروايي او ناجايزوالي لپاره کافي دليل دئ.

دفرعوني ختنې يا خفاض په هکله ددين حکم

فرعوني ختنه دفراعنه وو په زمانه او په خاصه توګه د رمسيس په وخت يعنې دميلاد څخه زر کاله دمخه دهغو دفتوحاتو په نتيجه کې په سوډان کې رواج شوه او کله چې بيا دنوبې ملوکانو په مصر تسلط پيدا کړ دغه فرعوني عادت دنيل درياب په وادي او شاوخوا سيمو کې هم خپور شو.

په نورو هيوادونو کې دښځې ختنه فرعوني وي که غير فرعوني وجود نلري. دمثال په توګه هغه نه په مغرب، نه اردن، نه عراق، نه هند او پاکستان او نه په عربستان او يمن

کې لیدل کیږي.

د شریعت نظر دادئ چې د ښځې په نه ختنه کولو کې کومه گناه نشته خو فرعوني ختنه له کبیره گناهونو څخه ده، په هغې کې بشپړ دیت (خونبها) لازمیږي او فاعل یا کوونکئ یې ملعون دئ.

فرعوني ختنه یو شیطاني مفکوره او عمل دئ چې ابلیس هغې ته بلنه ورکوي. خدای(ج) فرمایي: ﴿إِنْ يدعونَ منْ دونه إلاَّ إناثاً وإنْ يَدْعُونَ إلاَّ شَيْطَاناً مَرِيداً لَعَنَهُ اللهُ - وَقَالَ لأتَّخذَنَّ منْ عَبَادكَ نَصيباً مَفْرُوضاً وَلأضلَّنَّهُمْ وَلأمَنِّيَنَّهُمْ ولآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذانَ الأنعامِ، ولآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّه وَمَنْ يَتَّخذ الشَّيْطَانَ وَلِياً منْ دُون اللّه فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَاناً مُبِيناً﴾.
(النساء: ۱۱۷-۱۱۹) یعنې کافر عبادت نه کوي مگر د رټل شوي شیطان چې ویې ویل: ستا له بنده گانو څخه به یوه ټاکلې برخه اخلم او هغوی به بې لارې کوم، غلطې هیلې او آرزوگانې یې په مازغو کې ځایوم. هغوته امر کوم چې غوږ کړي د څلورپولو حیواناتو غوږونه او ورته امر کوم چې بدل کړي خلقت د خدای. څوک چې خدای پرېږدي او شیطان خپل دوست گرځوي نو په څرگنده زیانمن شویدئ.

رسول اللّه ﷺ فرمایي: «**لعن اللّه الواشمات، المغیرات خلق اللّه**» یعنې خدای لعنت وایي په خال وهونکو ښځو او پر خلق اللّه ته بدلون ورکوونکو. هغه خال چې پر پوستکي اغیزه کوي له کبائرو یعنې کبیره گناوو څخه ده. ترهغو لاندې نجاست او پلیتي ده چې که د ضرر خوف او ویره یې نه وي باید زایل او غوڅ شي. داسې چاروته په حدیث کې حرام ویل شوي چې فرعوني ختنه د دې حرمت په سر کې راځي. داحادیثو په شهادت هغه له کبایرو څخه او فاعلین یې د لعنت مستحق دي. ځکه چې د خلق اللّه د تغیر له بابه څخه ده. بخاري او مسلم له ابن مسعود څخه روایت کوي چې کله ابن مسعود دا خبره وکړه یوې ښځې هغه ملامت کړ نو بیا ابن مسعود هغې ښځې خبره رد او ویې ویل «څنگه به زه هغه چا ته لعنت نه وایم چې رسول اللّه ﷺ ورته لعنت وایي.» اللّه(ج) فرمایي:

﴿وما آتاكُمُ الرسولُ فخذوهُ وما نهاكُمْ عَنْه فانتهُوا ﴾ (الحشر:٧) يعني هغه څه چي پيغمبر له ځانه سره راوړي واخلىٍ او له څه شي څخه چي يې منع کړي، منع شي.

پس هغه سړی چي په سودان کې اجازه ورکوي چي لوريې په فرعوني طريقه ختنه شي، د شريعت له نظره ملعون او د کبيره گناه مرتکب دئ. عين همدا حکم يې د مور او هغه چاچي دا کار سرته رسولئ په هکله هم دئ. دا حماقت دئ که پلار ووايي چي دا د ښځو کار دئ او زه ورسره هيڅ کار او غرض نلرم. حديث شريف وايي «**کلکم راع وکلکم مسئول عن رعية**» يعني هر يو ستاسو راعی (ساتندوی امير او والی) او د خپل تر لاس لاندو په اړوند مسئوليت لری. او د بخاری او مسلم حديث پلار او مور دواړه پدې مسئوليت کې شريک کړيدي. بل مبارک حديث دئ چي «**من رأى منكم منكرا فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه إلخ...**» يعني چا چي بدي وليده نو په لاس دې اصلاح کړي او که نه يې شو کولای په ژبه دې اصلاح کړي او که يې دا هم نشو کولای نو په زړه کې دې هغه ته بد ووايي چي دا د ايمان ډيره ضعيفه درجه ده.

پلار کولائ شي چي منکر ته تغير ورکړي او د ختنه کوونکي پر ضد په محکمه کې دعوا وکړي او څرنگه چي هغه منکر ته تغير ورکوي نو ځکه د ثواب مستحق گرځي لکه چي الله(ج) فرمايي: ﴿ يأأيُّها الذينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامينَ بالقسْط شُهَدَاءَ للّهَ ولَوْ عَلىٰ أَنْفُسكُمْ أَو الوَالديْن وَالأَقْرَبينَ .. إنْ يَكُنْ غَنياً أَوْ فَقيراً فاللّهُ أَوْلىٰ بهمَا ﴾ (النساء: ١٣٥) يعني ای مسلمانانو تاسو عدالت ته ودريږئ او د خدای لپاره شهادت ورکړئ سره د دې که دا شهادت ستاسو يا ستاسو د والدينو (مور او پلار) او دوستانو پر ضد وي... که نا داره وي يا شتمن او توانگر خدای هغو ته نژدې او پر هغو مهربانه دئ.

ځني تنگ نظره خلک پدې عقيده دي چي په فرعوني ختنه کې د نجلۍ عفت او آبرو ده. که مسئله داسې وای الله(ج) هغه په دې حالت نه خلقاوه. الله(ج) انسان په ډيره ښه بڼه خلق او پيدا کړئ او هيڅوک تر خدايه غير تمند ندئ.

داستعمار په وخت کې ځنې با قدرته مقاماتو غوښتل چې لدې منکراو وحشيانه عمل څخه مخنيوئ وکړي خو ځنې دسطحی نظر خاوندانو دهغو په مقابل کې ودريدل او پدې دليل دهغو مانع شول چې انگريز دهغو په خصوصي او شخصي چارو کې مداخله کوي خو دپيغمبر ﷺ داحديث يې هير کړي ؤ چې «**خذا لحکمه ولا يضرک من أی وعاء خرجت**» يعنې علم او حکمت له هره ځايه چې وي واخلئ. تاسو ته ضرر نلري چې له کوم لوښي راوتلئ وي يعنې که حتی دظالم او گناهکار شخص له خولې څخه وي. دحکمت محل او مکان ستاسو په ضرر نده.

دفرعوني ختنې داستونزه دسودان په جريدو کې خپريږي او تول له هغه څخه شکايت لري. يوې سوداني ښځې په يوه سوداني جريده کې ددې عمل څخه شکايت کړئ او داسې ليکي:

زما ستونزه پدې کې خلاصه کيږي چې زه پر ته له خپلو درې ماشومانو په هر شي او پر هر چا په قهر اوغصه کيږم. خاوند مې چې پر ما ډير مهربانه دئ خو زه دهغه دليدو او ورسره دناستې ولاړې طاقت او زغم نلرم او نه غواړم چې دهغه سره بستر ته ولاړه شم. دنارينه وو څخه مې بد راځي، جنسي عمل مې ندئ خوښ او کرکه مې ترې راځي دهغه څخه هيڅ ډول خوند نه اخلم او ډير جزئي احساس هم ترې نه ترلاسه کوم حال داچې پوهيږم چې نورې ښځې اونارينه ترې زيات خوند اخلي. جناب دجريدې سر محرر صاحب نپوهيږم چې زه ولې له خپل ميړه څخه کرکه لرم او په جنسي مسئله کې سړه او بې احساسه يم. دقهر او غضب عصبانيت او جگرخونۍ او دانتحار (ځان وژنې) دقصد په علت مې نپوهيږم. آيا څوک دهغه په علت پوهيږي؟ کومه تداوي اوعلاج يې شته؟ دځواب په شديداوتر اوره سوځوونکي انتظار کې يم.

مخلصه ع. م. أ

أم درمان عباسيه

دا ؤ دیوې میرمنې شکایت. ښه به وي چې د جریدې سرمحرر ورته ووایي چې دانتحار فکر خراب او غیر معقول فکر دئ او هغه باید له خپلو مازغو وباسي ځکه انتحار هیڅ ستونزه نه حلوي او مونږ دې میرمنې ته وایو چې که فرعوني ختنه ددې ستونزې اساسي عامل نه وي نو بې له شکه تر ټولو لوی عامل او سبب خو به یې وي او دا جنایت ستا د مور او پلار دئ او همدا جزا یې بس ده چې پیغمبر ﷺ ورته لعنت ویلي دئ.

ددې میرمنې نمونې تاسو زیات لیدلئ او اوریدلئ شي. د «نوي سودان» په نامه جریده کې داسې لیکل شوي ؤ: یوه ځوان واده وکړ او پنځه ورځې وروسته یې خپله میرمن ووژله ځکه چې دخلکو په منځ کې دا آوازه خپره شوه چې هغه دجنسي عمل قدرت نلري. میړه یې دا فکر وکړ چې دا آوازه دده میرمنې گډه کړې نو ځکه یې هغه ووژله. او دا قبیح او وحشیانه عمل دخو میاشتو په اوږدو کې دځوانانو دجنسي عمل مانع گرځي.

الله(ج) انسان په ډیره ښه بڼه خلق کړئ او د عقل په ورکولو سره یې له نورو حیواناتو څخه فرق کړئ دئ.

تیره شپه مې خپل زوی په ژور تأثر او ژړا کورته راغئ ځکه چې د ملگري مور یې دقابلې دنشتوالي له امله په لنگوال مړه شوه. دئ وایي ټولو ورو ماشومانو یې ژړل نو دهغو ژړا زه هم ډیر متأثر کړم او فکر می وکړ چې که زه نن شپه مړ شم نو الله(ج) به عذاب راکړي. نو دا عزم می وکړ چې دا فرعوني ختنه بیا روی کاره کړم. دی پیښې ما ته هغه صحبت راپه یاد کړ چې دعامې روغتیا د پخواني معین ډاکټر ابوشمه سره می درلود. زه هغه ته وزارت ته ورغلم او ورڅخه مې غوښتنه وکړه چې دښځو دختنه کولو لپاره سودان ته له بهر څخه ښځې راجلب کړي. هغه راته وویل چې داکار امکان نلري ځکه مونږ خارجي دولتونو ته دا ابلاغ کړئ چې سودان یو پرمختللئ هیواد دئ، ختنه کول په ډیرو کمو لیرې گوښو کې رواج لري چې ډیر ژر به هغه هم له منځه ولاړ شي. او بیا یې وویل لازم خو داده چې ښځه خپل ځان لکه حیوان داسې ونه بولي دخواشینۍاو تأسف ځای خو دادئ چې سوداني ښځه په هر لنگوال کې جراحي عملیې ته اړتیا پیدا کوي نو که چیرې

دښار ځخه ليرې وي او هلته قابله پيدا نشي هغه مره كيږي دډاكټر ابوشمه له وينا ځخه داسې څرګنديده چې فرعوني ختنه مخ په ختميدو ده نو مې ورسره موافقه وكړه.

داخبرې بايد هغه كسان واوري چې دا ناوړه او فاسد عادتونه او تقليدونه يې په نظر كې له شريعت ځخه زيات قدر او اهميت لري. هغوى لكه هغه كسان دي چې الله(ج) دهغو په حق كې فرمايي: ﴿و إنْ يَروا سبيلَ الرُّشْد لا يَتَّخذُوهُ سبيلاً﴾ (الاعراف:١٤٦) يعنې كه مستقيمه ليار ووينې هغه پرېږدي په بله ځي.

د دې قبيح او منكر عمل چاره او علاج

څرنګه چې فرعوني ختنه دشخصي حالت سره تينګې اړيكې لري او ضرر يې مير من او ميړه دواړو ته دئ علمأ د «سدذرايع» پر وجوب يعنې دوسيلو او ليارو پر بندولو چې دفساد مخه نيسي او هغه له منځه وړي سره اتفاق لري. ځكه نو زه هيله من يم چې داسې يو قانون وضع او صادر شي چې دښځو ختنه كول په بشپړ او مطلق ډول منع شي دا فرق نه كوي چې ختنه فرعوني وي يا غير فرعوني. او همدارنګه غوښتنه كوم ترڅو ددې قانون ځخه سرغړونكي په شرعي محكمه كې محاكمه او جزا وركړشي. ټول پوهيږي چې شرعي قاضي په خپله اختصاصي دايره كې په شريعت حكم كوي نو كه چيرې دا حساسه موضوع شرعي محكمې ته حواله شي خلك هغه مني او حكم ته يې غاړه ږدي، راضي كيږي او تسليميږي. الله(ج) فرمايي: ﴿فلا وربِّكَ لا يُؤْمنُونَ حتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لايَجِدُوا في أنفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ ويُسَلِّمُوا تسليماً﴾ (النساء:٦٥) يعنې ستا په رب قسم چې خلك ايمان نه راوړي ترهغو چې تا دخپلو دعوو په مسئلو كې حَكَم وګرځوي. وروسته نو بيا ستا دحُكم په رښتينولۍ كې يې په زړه كې هيڅ شك او وسوسه نه پاته كيږي او په بشپړ ډول تسليميږي.

څرنګه چې فرعوني ختنه دشريعت په حق كې يو جنايت دئ نو ځكه په هغې كې بشپړ ديت (خونبها) لازميږي. فقيهې وايي: دښځې دفرج د شفو په له منځه وړلو كې بشپړ ديت لازميږي او كه بشپړ غوځې شوې نه وي او يوه كمه برخه ځنې غوځه شوې وي،

دا موضوع د قاضي په اجتهاد پورې مربوطیږي چې څه ډول جزا ورته لازم ویني ترڅو په راتلونکي کې د دې ناوړه عمل مانع وګرځي. که چیرې د قاضي په وړاندې فرعوني ختنه ثابته شي نو باید چې ختنه کوونکې ښځه ونیول شي او زندان ته واچول شي ترڅو نجلۍ ته بشپړ دیت ورکړي. ځکه چې ختنه کوونکې دا عمل پخپله خوښه او رضا سرته رسوي علمأ پدې اتفاق لري چې ټول دیت (خونبها) پخپله ختنه ګره باید ورکړي نه دهغې قوم او قبیله. وروسته دې بیا دهغې مور او پلار راوغوښتل شي هغوی دې هم تادیب او سرزنش شي ځکه چې دصحیحینو (بخاری او مسلم) حدیث هغوی په مسئولیت کې سره شریکوي چې د ختنه ګرې په جرم کې هم شریک دي. لازمه ده چې ختنه ګره په بشپړ دیت سره دهغه عیب تاوان ورکړي چې نجلۍ ته یې وراړولئ او عبارت ده دفرج له تنګولو څخه. ځکه دا دهغو څلورو عیبونو څخه ده چې د بی خبرۍ په صورت کې، خاوند پکښې دعقد دردولو واک او اختیار لري

نو پر ټولو مسلمانانو لازم ده چې خپلې لوڼې په مطلق ډول ختنه نکړي ځکه شریعت هغه پر مونږ لازم ندئ ګرځولئ او نه یې په ترک کولو کې ګناه ده. دشرعی قوانینو د تطبیق برسیره باید چې دجمعي اطلاعاتو دوسیلو په ذریعه لکه راډیو، تلویزیون، ورځپاڼو او جریدو له لیاری خلکو ته دا مسئله تبلیغ شي.دجوماتونو خطیبان باید پلرونه د دې کار له ناجائز والی څخه خبر کړي او ددین په حکم یې وپوهوي. ورتهووایی چې دا دکبایر وله جملې څخه یو عمل دئ چې پر مجرم یې دیت (خونبها) لازمیږي او کوونکئ یې ملعون دئ. پر عامل، امر کوونکي او هغه چاچې پدې کار کې یې سکوت غوره کړئ توبه لازمیږي او خیر په خلکو کې ترهغو موجود وي چې په معروف امر او له منکر څخه منع وکړي. زه هیله کوم چې زما دا بلنه به دعقل خاوندان هغه چې خبره آوري او بیا یې نیک او بد سره بیلوي ومني او ترې پیروي وکړي. او خدای(ج) هرچاته چې وغواړي لارښوونه کوي.

دنجونو ختنه کول
نه سنت دئ او نه کرامت

د ډاکتر محمد سليم عوا
ليکنه

● له هغه وخته چې د CNN تلويزيون يو تصويري خبر په قاهره کې د يوې بې ګناه مصري نجلۍ دختنې په هکله خپور کړ، نو دې مسئلې نه يوازې په مصر بلکې په بيلا بيلو هيوادونو کې دخلکو زيات پاملرنه او خوا خوږي ځانته جلب کړه او په خاصه توګه بيا په عربي او اسلامي هيوادونو کې.

● ډيرو کوښښ وکړ ترڅو داسلام حکم پدې هکله وليکي او اکثره ليکنې دښځو دختنې دصحت د ثابتولو په شا وخوا څرخيدې راڅرخيدې، څنو مبالغه وکړه هغه يې سنت وباله او څنو بيا نور هم له غُلوُ څخه کار واخيسته هغه په نارينه او ښځو کې لازمي بولي.

● هو! دنارينه په ختنه کولو کې کوم اختلاف نشته نو ځکه د شريعت دحکم بيانولو ته يې اړتيا نه ليدل کيږي.

● **شرعي اسلامي حکم له اصلي مصادرو څخه چې پرې اتفاق موجود دئ** اخستيل کيږي چې عبارت دي له: قرآن کريم، نبوي صحيح سنت، اجماع له خپلو شرطونو او قياس له خپلو شرطونو سره.

● دفقهو اجتهاد يو بشري عمل دئ چې د شرعي علومو متخصصين د شريعت دحکم دبيانولو په غرض هغه سرته رسوي. **دفقيهو کلام نه شريعت دئ او نه دهغه په وسيله د دليل په حيث استدلال کيداى شي.** بلکې داسې استدلال کيداى شي چې **هغه پر شرعي نصوصو باندې په پوهيدو او دواقعيتونو په تطبيق کې مرسته کوي.** په حقيقت کې هغه يوه لياره ده د نصوصو دښه پوهيدو او دعملي کولو د کيفيت په هکله يې. اجتهاد کوونکۍ **معصوم او بې ګناه نه بلکې دصواب (صحيح او درست) او خطا دواړو امکان يې شته،** چې که اجتهاد يې صواب يعنې صحيح وي دوه اجره لري او که غلط وي يو اجر.

● که وغواړو چې د ښځو د ختنې په اړوند د شریعت په حکم پوه شو، **هغه په قرآن** کریم' بیا یې په سنتو بیا په اجماع او وروسته یې بیا په قیاس کې لټوو. کله کله په فقه او اجتهاد کې داسې شئ پیدا کوو چې پرې ډاډ ترلاسه کیږي او کله بیا پکښې داسې شی نه لیدل کیږي چې د نوي علم په رڼا کې یې ګټه ثابته شي، نو ځکه یې پرېږدو او هیڅ پروا یې نه کوو.

● په **قرآن کریم** کې داسې نص **نشته** چې لیرې یا نژدې د ښځو د ختنې جواز ته پکښې اشاره وي او د منلو وړ **اجماع او قیاس هم وجود نلري.**

● په **نبوي سنتو** کې د مشروعیت ګمان شته ځکه پدې هکله ځنې روایتونه حضرت پیغمبر ﷺ ته نسبت ورکول کیږي خو په حقیقت کې **یو صحیح دلیل هم پدې روایتونو کې نه لیدل کیږي**، ترڅو پدې مهمه او حیاتي مسئله کې پرې استدلال وشي.

● **هغه احادیث چې صحیح نه وي د علم د خاوندانو په وړاندې د منلو وړ ندي.**

● کوم روایتونه چې د ښځو د ختنې په هکله ذکر شویدي مشهور یې هماغه د اُم عطیې په نامه ښځې حدیث دئ چې په مدینه منوره کې به یې نجونې ختنه کولې. داسې ګمان کیږي چې رسول الله ﷺ هغې ته ویلي وي چې ای ام عطیې! هغه ډیر سطحي اجرا کړه داسې لکه چې بوی کړي دې وي. هغو ته زحمت مه ورکوه هغه د مخ خوښوونکی او دنارینه لپاره لذت دی. دغه حدیث حاکم، بیهقي او ابوداوود په سره ورته بیلو بیلو الفاظو ذکر کړي او ټولو یې په ضعیفو اسنادو سره روایت کړئ لکه چې حافظ زین الدین عراقي د غزالي د احیأ العلوم په شرح کې دا مطلب بیان کړیدئ.

● ابوداوود د پورته حدیث په هکله لیکي چې هغه له عبیدالله ابن عمرو او عبدالملک ځخه په معنیٰ او سند سره ذکر شوي خو هغه قوي اشخاص نه او حدیث یې ضعیف دئ.

● ځنې معاصرو علماوو د دې حدیث روایتونه سره راټول او ارزیابي کړل چې ټول ضعیف ول او دلیل کیدای نشول. آن دا چې زمونږ وروړ ډاکټر صباغ د ښځو د ختنې په هکله خپله رساله کې لیکي. **دې دوه جلیل القدر امامانو - ابوداوود او عراقي ته وګوری،**

چې څرنګه يې هغه ضعيف وبلل. دا اوسني وروستي څې علما چې هغه صحيح بولي پروا او پاملرنه مه ورته کوي.

● پس دأُم عطيې حديث نه دليل کيدائ شي او نه پکښې خير شته. او که فرض کړو دجدل له مخې هغه ته صحيح هم ووايو نو په هغه کې دنجونو دختنې په هکله حکم نه بلکې دواقع کيدو په صورت کې يې محدودول مطرح دي.داشمام کلمه دبويولو په معنی يعنې دخارجي برخې څخه يې ديوې کمې برخې دپوستکي اخستل دي چې دقلفې په نامه ياديږي او بايد چې دومره کم او سطحي وي چې حتیٰ احساس يې نکړي چې له بدن څخه يې څشئ غوڅ شو لکه چې امام ماوردي وايي هغه دظاهري او پورتنی برخې دپوستکي اخستل دي نه له داخل څخه له منځه وړل. امام نووي وايي ډير کم جزئيا برخه يې... نو اوس مسئله دجراحي طب پورې مربوطيږي چې متخصص جراح دهغه حد تاکلئ شي او عادي طبيبان يې دحد له ټاکلو څخه عاجز دي. او قابلې، دايې او سلمانی خو ددې کار له عُهدې څخه نشي وتلای.

● دوهم حديث چې لکه دام عطيې حديث داسې شهرت لري، هغه روايت دئ چې ګويا حضرت رسول الله ﷺ فرمايلي دي داچې سوري ختنه دنارينه وو لپاره سنت او دښځو لپاره کرامت دئ. حافظ عراقی داحيأ العلومو په شرح کې هغه هم ضعيف بللئ او علامه سيد سابق په «فقه السنه» کې وايي: «دښځو دختنې په هکله حديثونه ضعيف، او صحيح ندي.

● حافظ ابن حجر په خپل کتاب «تلخيص» کې دا حديث ضعيف ثابت کړئ او دبيهقي قول يې نقل کړئ چې منقطع ضعيف دئ او ابن عبدالبر د «موطا» په شرح کې وايي «هغه د راوي په روايت څرخيږي چې استدلال پرې نشي کيدای». (دعون المعبود کتاب ۱٤/۱۲٤)

● دحافظ کلام دئ چې ابی عمر ابن عبدالبر په ياد شوي کتاب کې وايی: «څوک چې دښځې ختنه سنت بولي دابوملیح په حديث استدلال کوي او هغه په حجاج ابن ارطاة

ؤ چې دحضرت ابراهیم (ع) له سنتونو څخه شمیرل کیده او په یهودانو کې هم دهمدې سنتو دوام ؤ.

داسي معلومیږي چې دجاهلیت ددورې ځنې عربانو داسې انګیرل چې دا عملیه باید په ښځو کې هم جاري شي نو ځکه یې داعملیه اجرا او نوم یې خفاض (سورې ختنه) کیښوده چې عبادت ؤ دبظریا کلیتورس (دفرج په پاسنۍ برخه کې دشونډو ترمنځ راوتنه) پریکول. داهم لکه دهلکانو دقلفې له منځه وړل دي خو پدې توپیر سره چې بظر ډیر نرئ او حساس دئ او دشدید تکلیف او درد سبب کیږي.

ځنې نورو جاهلیتونو په تیره بیا فرعوني جهالت تردې ناوړه عمل کاوه او هغه دا چې دنجونو دخارجي تناسلي غړو یعنې فرج یوه زیاته برخه یې غوځوله او دا ناوړه او وحشیانه عمل نن هم په ځنې افریقایي هیوادونو کې چې پخوا دفرعونیانو تر ولکې لاندې وو رواج لري. دا یو ډیر ناوړه او قبیح عمل دی چې عقل یې نه مني.

خواشیني خو پدې کې ده چې داکار په داسي یوه سیمه کې سرته رسیږي چې زیات هیوادونه په دروا غو سره هغه دین ته نسبت ورکوي حال دا چې دین له هغه څخه بیزاره دئ. ځنې ملتونه بیا دې عمل ته دديني عملیې په حیث دقدر په سترګه ګوري ، دهغه فتوا ورکوي او پدې اړوند په ضعیفو حدیثو نو سره استدلال کوي. حضرت رسول الله ﷺ په هغه رضایت نلري په تیره بیا چې په هغې کې دخدای دبنده ګانو - یوې لطیفې او حساسې طبقې ته پکښې شدید ضرر او زجر دئ. حضرت پیغمبر ﷺ درحلت او خپل اعلیٰ رفیق ته دورتلو په وخت کې دا وصیت وکړ او ویې فرمایل: « **استوصوا بالنساء خیراً** » یعنې دښځو سره نیک سلوک کوئ. رسوال الله ﷺ له ضرر او ضرار څخه منع کړې او څوک چې خلق الله ته تغیر ورکوي پرې لعنت وایي. لدې څخه به بل دخلق الله ځرګند تغیر څه وي چې دښځې پر ترټولو مهم جهاز تیرئ او تعدیٰ وشي ؟

ځنې ضعیف حدیثونه چې یو شمیر پر هغو استدلال کوي په غوڅه توګه دښځو پر ختنه کولو امر نه کوي بلکې هدایت پدې اړوند دا دئ چې که چیرې داعمل سرته رسیږي

ځرخيږي، حال داچې په مستقل ډول او يوازې شکل په هغه سره استدلال نشي کيدای او ټولو مسلمانانو پدې اتفاق کړی چې ختنه يوازې په نارينه وو کې ده... » .

● **پدې ډول په هغه نص کې کوم دليل نشته ځکه چې ضعيف دی او په راوي ځرخيږي چې دهغه په روايت استدلال نشي کيدای. له هغه ځخه ځرنګه شرعي حکم اخستل کيدای شي چې هغه حکم يا سنت دی يا کرامت او يا هم کم له کمه مستحب وي. او مستحب شرعي حکم هغه دی چې په صحيح دليل سره ثابت شي.**

● داسې بايد ونه ويل شي چې هغه حديث ځانته شاهد يا شواهد لري لکه دامّ عطيې حديث ځکه ټول کوم شواهد يې چې ذکر کړي معلول او ضعيف دي، چې دليل کيدای نشي.

که دجدل په غرض هم دا حديث صحيح وبلل شي حال داچې داسې نده، نو بيا هم دهلک او نجلۍ دختنې حکم يکښې برابر ندی بلکې په هغې کې په ځرګند ډول ذکر دي چه دنجونو ختنه سنت نه بلکې تر هغو په ټيټه مرتبه کې ده لکه داسې چې اسلام په داسې وخت کې راغی چې ځنې عربو به خپلې لونړې ختنه کولې، اسلام دغه ختنه کول تهذيب او اصلاح او کيفيت ته يې تغير ورکړ او ويې ويل که دا ضرور وي نو هغه په ډير ځير او نزاکت سره سرته ورسوی لکه ځنګه چې په لمړي حديث کې چې **ضعيف** دی بويولو ته تشبه شوی او بيان يې کړ چې هغه ددين حکم نه بلکې دخلکو له رواجونو ځخه ؤ او علما وايي چې دسنت کلمه په دوهم **ضعيف** روايت کې دعرف عادت او رواج په معنی ده نه دمعروفو شرعي سنتو په معنیٰ.

● دغه دواړه روايتونه که صحيح وي نو ددې نه زياته توله نلري او **که حضرت پيغمبر ﷺ پدې کې د نارينه او ښځې ترمنځ برابري غوښتې نو ويل يې چې ختنه نارينه او ښځو دواړو ته سنت دی او يا يې مطلق ويل چې «ختنه سنت» دی** او غلی کيده. نو په هغه صورت کې دې حکم عموميت پيدا کاوه او يوې قبيلې يا طايفې پورې نه محدوديده. ځرنګه چې پدې دواړو کې په لفظ کې توپير دی نو **دروايت دصحت په صورت کې** په حکم

کې یې هم توپیر دئ. د نارینه وو په هکله یې سنت والئ د سنت د عمومي کلمې په معنی ده د غه مفهوم امام ابن عبدالبر قرطبي لدې ضعیف روایت څخه ترلاسه کړئ او ویې ویل چې اجماع بیانوي چې دا د نارینه وؤ په حق کې سنت دئ.

● امام شوکاني وایي: **برسیره پردې چې حدیث د استدلال وړنه، پر مطلب هم دلالت نلري.**

● پدې ورستیو کې په مصر کې پدې هکله ځنې مقالې لیکل شوي او د اُم حبیبې په نامه ښځې څخه یې یادونه کړې او دهغې له خولې نه یې یو حدیث حضرت پیغمبر ﷺ ته نسبت ورکړئ. دا ډول حدیثونه د سنتو په کتاب کې وجود نلري او نه دداسې ښځې نوم شته چې دا عملیه به یې اجرا کړې وي. پس دا کلام اصلیت نلري.

● په حدیث باندې استدلال کوي چې له عبدالله ابن عمرو څخه روایت شوئ چې هغه انصارو ښځو ته خطاب دئ چې ختنه شوې وګ: په نیل الاوطار کې دا حدیث هم ضعیف ښودل شوئ، چې په سند کې یې مندل ابن علی دئ چې ضعیف، او بل خالد ابن عمرو قرشي دئ چې له مندل نه هم پسې ضعیف دئ نو ځکه دلیل نشي کیدائ.

● په صحیحو سنتو کې له بي بي عایشې (رض) څخه په موقوف او حضرت پیغمبر ﷺ څخه په مرفوع ډول په ډیرو نژدې الفاظو سره ذکر شوئ چې «**إذا التقى الختانان فقد وجب الغُسل**» یعنې که دوه د ختنو ځایونه سره تماس وکړي نو غسل واجبیږي دا حدیث په موطا، صحیح مسلم، ترمذی، ابن ماجه او نورو د حدیثو په کتابونو کې ذکر شویدئ.

● د ذکر شوي حدیث څخه استدلال داسې دئ چې د «الختانان» په لفظ سره په هغه کې د نارینه او ښځې د ختنې ځای په صراحت سره ذکر شوئ چې ځنې کسان هغه د ښځې د ختنې پر مشروعیت دلیل بولي.

● حال دا چې دا صحیح حدیث پدې مطلب دلالت نه لري ځکه چې هغه د تثنې لفظ، او د تسمې له بابه څخه په دوو نژدې شیزونو، کسانو یا امرونو کې د تر ټولو مشهور په

نامه وي او يا د تغليب له بابه ښځه ديوه په نامه وي. داسې لفظونه په صحيح عربي ژبه کې زيات دي لکه العمران (ابوبکر او عمر)، والقمران (شمس او قمر) والنيران (شمس او قمر – داسې چې قمر نور نلري او دلمر دنور انعکاس دئ)، والعشأان (ماښام او ماخستن) والظهران (ماسپښين او مازديگر)، عربان په دوو ورته شيزونو کې، غښتلي او با قدرته عموماً غالبوي او دهغه په نامه يې ذکر وي لکه دوالدينو لپاره (الأبوان) چې مقصد ورڅخه پلار او مور دئ. او يا هم عمرين دابوبکر او عمر لپاره. کله کله دهغه په نامه چې لوړ او ستر شان ولري ذکر راځي لکه ﴿وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ هَذَا عذب فرات وهذا ملح أجاج﴾ دوه سمندره سره برابر ندي دغه خوږ او مزه داره او هغه بل مالگين او تريو. چې لمړئ يې نهر او دوهم يې حقيقي بحردئ. ځنې وختونه مونث په تثنيه کې غالبوي لکه المروتان يعنې دوه مروې چې مقصد ترې صفا او مروه ده چې په مکه مکرمه کې دوه غونډۍ دي. داسې شيزونه دعلم خاوندانو ته په عربي کې معلوم دي (نحوالوافی ۱/۱۱۸).

● همدارنگه معلومه شوه چې **په صحيحو سنتو کې دښځې دختنې دمشروعيت په هکله څه نشته، کوم حديثونه چې ترې استدلال کيږي هغه هم ضعيف دي او شرعي دليل کيداې نشي. تردې زيات دلالت نه کوي چې هغه دعربو يو عادت ؤ او اسلام دهغه داصلاح او تهذيب امر دطب دعلم په پرمختگ سره ورکړ ترڅو يې دخپل پرمختگ پر بنسټ اصلاح کړي.**

● مونږ دښځو دختنې رابلونکو او مشروع بلونکو ته وايو چې کومه ختنه چې مونږ پرې غږيږو يو مجرد نظري مفهوم نه ده چې انسان دهغه دصحت او عقل ته يې دفساد په شاوخوا خبرې او مناقشه وکړي، بلکې هغه يو تطبيقي عادت او رواج ؤ چې په مصر کې دخپروشوو احصائيو پر بنسټ، دمصر په سلو کې ۹۵ ښځې ختنه کيدې او هغه په درې صورتونو اجرا کيدې چې دښځو دختنې دپلويانو مخالف ؤ.

● په ټولو شکلونو چې دښځو ختنه په مصر کې سرته رسيږي د «تکليف مه

ورکوي» کلمې تر مفهوم لاندې چې په ضعیف حدیث کې راغلي، راځي. لدې کبله پدې حدیث سره استدلال کومه ګټه نلري ځکه چې دا کار دهغه موافق نه بلکې مخالف یې دئ.

● کومه ختنه چې په مصر کې په درې شکله په ښځو تطبیقیږي، پر جسم باندې تکلیف او تیری دئ او دجزا په قانون کې دمقرر تحریم تر مفهوم لاندې راځي.

● پدې باب دطبیب او غیر طبیب جنایي او مدني مسئولیت سره برابر دئ ځکه چې دښځې تناسلي جهاز په هغه طبیعي شکل چې خدای (ج) خلق کړئ، نه ناروغ، نه دناروغۍ او نه د درد سبب کیږي چې جراحي ته یې ضرورت وي، نو ځکه ددې حساس طبیعي جهاز جراحي کول په هر شکل چې وي جواز نلري. ختنه کول نه دناروغۍ علاج، نه د ناروغۍ کشف او تشخیص، نه دموجوده درد کموونکئ او یا راتلونکي درد مانع کیدونکئ دئ چې د هغو پر اساس دغه جراحي عمل یعنې ختنه داباحت شکل ځانته غوره کړي. نو ځکه دا جراحي مباح نه بلکې دجرم او خباثت تر مادې لاندې راځي.

● حضرت رسول الله ﷺ خلق الله ته له بدلون ورکولو څخه منع کړې او بدلون ورکوونکو ته یې لعنت ویلي دي. قرآن کریم دحیوان دغو غوږو غوڅول ګناه بللې او هغه شیطاني وعده ده چې دهغو په وسیله یې بني آدم په خپلو څارویو کې بې لیارې او ګمراه کړئ او دخلق الله دتغییر ترحکم لاندې راځي. الله (ج) فرمایي: ﴿لَعَنَهُ اللَّهُ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيباً مَفْرُوضاً . وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ **وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ** وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيّاً مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَاناً مُبِيناً﴾ (النساء ۱۱۸-۱۱۹) یعنې شیطان وایي چې ستا له بندهٔ ګانو څخه یوه ټاکلې برخه اخلم او هر و مرو یې بې لیارې کوم، په درواغو ارزو ګانو کې یې اچوم او ورته **امر کوم ترڅو دحیواناتو غوږونه غوڅ او خلق الله ته تغیر ورکړي.**

● دنجونو ختنه په مصر او نورو اسلامي هیوادونو کې خلق الله ته تغیر ورکول دي چې په هغې کې دانسان بې ګناه غړي غوڅیږي. په داسې حال کې چې دا په حیواناتو کې

له شیطاني گمراهیو څخه وي، دانسان په حق کې به څه ډول وي؟؟

● ټولو ته معلومه ده چې په ښځه کې دختنې ځای په جنسي عمل کې ډیر نازک او حساس ځای دئ چې دنارینه سره دوصلت خوند اخیستنه دې غړي سره په تماس پورې تړلی او موقوف ده، نو دې غړي ته نقصان او زیان رسول جنایت او پر ښځې تیریٔ او تجاوز دئ چې هغه دخپل میړه څخه له خوند اخستنې څخه چې ورته حلال دئ، محرومول او په نتیجه کې یې روحي سوکالي له منځه وړي. الله(ج) دهر انسان غړي په خاصه توګه خلق کړي او هغه پر خپل مخلوق بشپړ علم لري. الهي خلقتونه دهغه په مخلوقاتو کې عبث او بې ګټې ندي او یا یې له بې پروایي او ناپوهی څخه ندي پیدا کړي، چې ختنه ګره هغه دښځو دختنې دپلویانو په مفکوره په ختنی سره اصلاح کړي بلکې دانسان هر غړیٔ داسې خلق شویٔ چې خپله ورسپارل شوې دنده په ښه او بشپړ ډول سرته ورسوي. دځنو دغو دندو دثمرې څخه بې برخې کیدل، پر هغو باندې څرګند تیریٔ دئ.

● هغه څوک چې دښځو دختنې ددوام پلوي کوي نو لدې حقیقت څخه سترګې پټوي، تجاهل کوي او ښځې آزاروي. دغه آزارول غیر مشروع کار؛ کوم زیان چې وررسیږي دجبران وړنه او کومه روحي ضربه چې لدې وجې ښځې ته ورکول کیږي په هیڅ صورت سره تعویض کیدای نشي.

● **کله چې ختنه دښځو لپاره مطلوب نه او کوم شرعي دلیل یې پروجوب او سنتوالی دلالت ونکړي پس هغه فقط یو ضرر، او بې ګټې کار دئ.** دا خبره غلطه ده چې پلویان یې وایي: «ځواني ته درسیدو په مرحله کې جنسي تحریکات کنترول او اصلاح کوي...» او وایي «مونږ ددې نښې نښانې په هغو مجلسونو کې چې نارینه او ښځې سره خوا په خوا کښیني او اختلاط کوي، وینو او له هیچا څخه پټه نده چې که چیرې نجونې ختنه شوې نه وای په نورو موجباتو سره یې تحریک او لمسونې پیل کولې او دشرو فساد او انحراف راپاریدو سبب کیږي!»

خو زه وایم چې موضوع داسې نده چې تاسو فکر کوئ ځکه چې جنسي انګیزه

دختنې له ځای سره د مستقیم مخصوص تماس په نتیجه کې رامنځ ته کیږي چې په ګنې ګونې کې او یا د هغو تماسونو له کبله چې په مجلسونو یا په ترانسپورتي وسیلو کې چې تاسو یې مثال راوړی، قطعاً نه واقع کیږي. په داسې مجلسونو کې د ښځو او نارینه وو ترمنځ ناجایزه تماسونه د بلابیلو ظاهري غړو په وسیله تر سره کیږي نو آیا د غه حالت د جسم د یوه جز او اندام په پریکولو سره معالجه کیږي؟

● څرګنده ده چې هر عفیف او پاک لمنۍ شخص لدې موضوع څخه چې پر ته د هغه له قصد او رغبت څخه تر سره شوئ، سخت په رنځ او درد کې وي، پدې حالت سره خپل نفس په شرم او خجالت کې ډوب بولي او د حقارت احساس کوي. په داسې حال کې نو بیا جنسي انګیزه او تحرک اصلاً وجود نشي لرلای ځکه چې د مازغو د احساساتو مرکز په نورو څیزونو اخته شي، او هغه شئ له روحي آرامۍ او سوکالۍ، بشپړ راحت او درضائیت له استعداد پر ته حاصلیدلای نشي.

● د ښځې او نارینه عفت او پاک لمنۍ او له بلې خوا د رذالت او حرامو ترمنځ، چې د شریعت له نظره ممنوع او قبیح کار دئ، تربیه او سپیڅلي اخلاق دیوال او حایل دي، او هغه څوک چې هغه د ښځې د ختنې نتیجه بولي، خبره یې غلطه او بې ګټې ده بلکې دا کار یو مطلق ضرر شمیرل کیږي.

● د مصر او نورو اسلامي هیوادونو، چې دا ناوړه عادت پکښې رواج دئ، له واجباتو څخه ده چې د هغه د منع کولو قانون وضع او صادر کړي او د ځنې پخوانیو خلکو فکري جمود باید د دې کار مانع نشي. فقیهو په صراحت سره څرګنده کړې چې د جماع د ځای د شفو په غوڅولو سره بشپړ دیت یا خونبها لازمیږي او دیت سخته جزا د فاعل لپاره او مستحق ته یې تعویض ورکول دي او فقیهي داسې استدلال کوي چې د فرج دا دواړه شفې جماع ته خوندور بخښي نو د دې خوند بشپړ یا قسماً له منځه تلل د تعویض د جزا موجب دئ د دې کار سبب باید په غوڅه توګه منع او له منځه ولاړ شي. (محلی ابن حزم ظاهری ۱۰/۴۵۸)

B
6-50
WHO
6957
V.8 sp.1

Published by M.O.P.H. Afghanistan with
technical and financial support of W.H.O.
November 1997.

All rights reserved.

Printed at: PanGraphics (Pvt) Ltd., Islamabad

● پدې ډول د ښځو دختنې په هکله د شریعت حکم څرګند شو چې نه واجب دی او نه **سنت**، او نه هم د ځنو ضعیفو روایتونو د دلایلو له کبله عزت او کرامت، **بلکې هغه یو عادت** دئ چې په ځنې اسلامي هیوادونو کې رواج لري نه په ټولو کې. دغه عادت چې **په ښځو ډول مضر دئ** باید پرته له کوم مشروع سبب څخه پر انسان تطبیق نشي او دا هغه زیان او ضرر دئ چې په ځانګړې توګه یې روحي او رواني اړخ د تعویض وړ ندئ. که دهغې له وجې د جماع خوند او لذت له منځه ولاړ شي لکه چې همدا اوس په ختنه شوو ښځو کې دي، زمونږ فقیهو دهغه دیت او قصاص واجب ګرځولئ دئ.

● نو پس هغه څوک چې نامشروع څیزونه مشروع ګرځوي باید له خدایه ووېرېږي او هغه څه چې شریعت نه وي، هغه ته یې نسبت ورنکړي. د پیغمبر ﷺ وصیت دې د ښځو په حق کې په یاد راولي چې: «استوصوا بالنساء خیراً» یعني د ښځو سره نیک سلوک او چلند وکړي خپل ځان دې د دې بې وزلو په حالت کې وشمیري چې پدې نامشروع ختنې سره د ژوندانه له خوندونو څخه بې برخې کیږي چې که چیرې پخپله دا نارینه له ښځو څخه بې برخې کیدای هیڅ شي به یې تلافي او جبران نه وي کړئ!!

نو باید کوښښ وشي چې دښځو د تناسلي غړو حرمت وساتل شي او هغه برخه چې که قطع کیږي هاسې وي چې ښځه یې لیرې والئ حتئ احساس نکړي. دا عمل یې دبویولو له احساس سره تشبه کړي چې ډیر سطحی، ناچیزه او هومره گذري وي چې کله پوهیدل کیږي هم نه. که داسې و انگیرو چې دا حدیثونه صحیح هم وي نو وروستئ او اصلي هدف به یې دجاهلیت ددورې درواجونو اصلاح کول ؤ. حال دا چې هغه ټول روایتونه صحیح ندي او دشریعت احکام پر صحیح نصوصو استوار وي.

نو لازمه وه تر څو دا حقیقت خلکو ته بیان او څرگند شي او شریعت له هغه تهمت څخه چې پرې شوئ ځان پاک او ددې عمل پر حرمت تاکید او ټینگار وشي چې ښځو ته مضر دئ. دا ضرر که کم وي یا زیات خلک باید پدې هکله په حق او ریښتیا وپوهیږي په تیره بیا چې داکار په هغې موضوع پورې اړوند ده چې دنړیوال روغتیایي سازمان دپاملرنې وړ او هغه دښځو سلامتي او روغتیا،او دهغو ناوړه عادتونو پر ضد مبارزه ده چې هغوی ورسره دژوند په بیلا بیلو مرحلو کې مخامخ کیږي. لدې کبله مو دریاض د پوهنتون داسلامي تعلیماتو له استاذ محترم ډاکټر محمد صباغ څخه خواهش وکړ تر څو پدې هکله یوه لنډه رساله ولیکي او په هغې کې دښځې او نارینه ختنه دشریعت له حکم سره بیان کړي. هغه پدې رساله کې هغه مقاله چې ډاکټر امین داوود لیکلی وه او یوه بله محترم ډاکټر محمد سلیم عوا لیکلې ده هم ضمیمه او یو ځای یې وړاندې کړل.

زه دلوي خدای له دربار څخه هیله کوم چې دا رساله به په گټه تمامه شي او مسلمانان به ترې استفاده وکړي. دا ډیرې ارزښتناکه او مستندې مقالې دي چې اصل یې په ځمکه او فرع یې په آسمان کې دي. دا رساله به دروغتیایي لارښوونو په لړۍ کې قاطع او فیصله کوونکې وي چې روغتیایي مسئولین به راوښي کړي لکه چې دسلیم عقل او رحیم زړه خاوندان راوښیوي.

وعلى الله قصدالسبیل و منها جائر!

حسین جزائري

بسم الله الرحمن الرحيم

دليكونكي سريزه

الحمد لله، والصلاة والسلام على سيدنا محمد رسول الله، على آله و صحبه و من والاه و بعد: دغه لنډه رساله ده داسلام په شريعت کې دختنې دحکم په هکله او ځواب دئ زما ديوه دوست پوښتنې ته چې لوريې درلوده او فکر يې کاوه چې دنجلۍ ختنه کول فرض دي. زما څخه يې پدې هکله ددين دحکم پوښتنه وکړه نو ما دغه رساله وليکله او ددين حکم مې پدې هکله دنارينه وو او ښځو لپاره بيان کړ. هيله لرم چې دا حکم به صحيح او حقيقي وي ځکه چې ډير خلک دنجونو دختنې په هکله دتيرو ناوړه عادتونو پر بنسټ ډير اغيزمن شوي په رښتينې پوهيدنه کې يې په غلطه ليار تللي او دتيرو عادتونو مطابق يې دسنتو په توگه اجرا کړيدي.

دنارينه وو دختنې په هکله شرعي دليل موجود او گټه او ارزښت يې هم ثابت شوئ چې کوم شک او اشتباه پکښې نشته. هماغسې چې دا رساله يې بيانوي.

پدې هکله ددوو معاصرو مؤلفينو دمقالو په پيدا کولو هم بريالئ شوم چې دا موضوع يې په علمي توگه نده څيړلې بلکې ځنويي ضعيف احاديث صحيح ښودلي او په خطابي ډول يې ليکلي دي. دی کار زه وهڅولم تر هغو ځايه چې اجتهاد مې اجازه راکوي اقدام وکړم او دا هيله او امُيد لرم چې خدای(ج) مې له خطأ څخه وساتي او حق راته راوښايي. دهغه متابعت مې دې روزي کړي.

الله(ج) حق وايي او په رښتينې لار، لارښوونه کوي وصلى الله على سيدنا محمد و على آله و صحبه وسلم والحمد لله رب العالمين.

محمد بن لطفي صباغ

په ختنه کولو کې د دین حکم

یو چا د ښځو او نارینه وو د ختنې د حکم او وخت په هکله یې وپوښتل او ویې ویل: که چیرې دا موضوع په هغو اسلامي هیوادونو کې چې تاسو پکښې ژوند کوئ څه ستونزې نه را پیدا کوي خو په ځنې نورو اسلامي هیوادونو کې زیاتې ستونزې رامنځ ته کوي او په خاصه توګه د افریقې په وچه کې.

کله مې چې دا موضوع وپلټله نو ومې موندله چې دا موضوع انسان ته په پاملرنه او اهمیت ورکولو کې د اسلام د موقف په چوکاټ کې څیړل کیږي.

حقیقت او ریښتیا وایم چې له اسلامي موضوعګانو څخه مې چې په هره موضوع جزئي وه که کُلي سوچ او فکر وکړ نو ایمان مې نور هم قوي شو او باور مې وکړ چې دا دین د خدای له پلوه دئ او ناشوني ده چې انسان هر څومره که ستر پوه او فیلسوف وي داسې یو دین پدې متانت او د احکامو او اجزاوو په داسې اړیکو او ټینګ تسلسل سره منځ ته راوړای وشي.

ختنه کول د سلیم فطرت خصلت دئ هغه فطرت چې خپل څښتن ته په توحید او د خدای ج شریعت ته په تسلیمیدو امر کوي لکه چې رسول الله ﷺ فرمایي: «**الفطرةُ خمسٌ: الختان، و الاستحداد، و نتف الإبط، و قصّ الشارب و تقليم الأظفار**» (د بخاري او مسلم په روایتونو) یعني فطرتونه پنځه دي ختنه کول، د نامه لاندې ویښتانو کلول، د تخرګونو د ویښتانو شکول، د بریتانو لنډول او د نوکانو اخستل. او اوس د ختنې لغوي او شرعي معنیٰ او تعریف.

ختنه په لغت کې د غوڅولو او پریکولو په معنیٰ ده او دا اسم دئ د دې د فعل لپاره. د ختنې ځای او برخه د حضرت بی بی عایشې په حدیث کې داسې ذکر شوئ (کله چې دوه

ختنې سره تماس وکړي، غسل واجبیږي) په شریعت کې ختنه د حشفې یا د تناسلي آلت د سر د پوستکي لیرې کول دي.

پدې کار سره جسم د ککړیو او جراثیمو یا میکروبونو له ځای څخه خلاصئ پیدا کوي او له بدبویۍ او نجاست څخه ژغورل کیږي. طبي تجربو ښودلې ده چې د بولي جهاز التهابات په هغو نارینه وو کې چې ختنه شوي نه وي، لوئ وي که وا ړه د ختنه شوو کسانو په پرتله ډیر زیات دئ. همدارنګه جنسي او زهروي ناروغۍ او په خاص ډول ایډس او سوزاک په نه ختنه شوو کسانو کې خورا زیات دئ.

برسیره پردې له ډیرو پخوا زمانو څخه دا عقیده موجوده ده چې د نارینه وو ختنه کول د هغو په بولي جهاز کې او د هغو د ښځو په رحمونو کې د سرطان د کمیدو سبب کیږي نو لدې کبله ډیر غیر مسلمانان په اروپا او امریکا کې هم ختنه کوي.

د نارینه ؤ ختنه کول

د نارینه ؤ د ختنې د حکم په هکله اختلاف موجود دئ. ځنې هغه واجب او ځنې یې مستحب بولي.

هغه چې واجب یې بولي د واجبیت لپاره یې څو دلیلونه لري چې له هغو جملې څخه یو دا مبارک حدیث دئ چې: «حضرت ابراهیم (ع) په اتیا کلنۍ عمر کې ځان په تیشه ختنه کړ». (د بخاري او مسلم په روایتونو).

ابن حجر د هغه د واجبیت په هکله او وه دلیلونه ذکر کړي چې یو له هغو څخه یې ذکر شو او نور یې په لاندې ډول دي چې د هر یو په هکله یې علماوو تبصرې هم لیکلې دي.

اول- قلفه یا د آلت د سر پوستکئ په ځان کې نجاست ساتي چې د لمانځه د صحت مانع ګرځي، داسې لکه چې چا د ځان سره نجاست ساتلئ وي.

دوهم- امام احمد او ابو داؤد له کليب څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «**أَلْقِ عنک شعر الکفر واختَتِنْ**» يعنې د کفر ويښتـه واچوه او ځان ختنه کړه. وايې چې دا ضعيف حديث دئ.

دريم- د ختنـه کيدو نکې د عورت لوڅول، حال دا چې لوڅول يې حرام دي نو که ختنه کول واجب نه واى د عورت لوڅولو جواز نه درلود.

څلورم- دا ديوه غړي غوڅول دي چې عوض نلري، غوڅول يې له بدن څخه د عبادت په توګه ده نو ځکه يې پريکول واجب دي لکه د غله د لاس پريکول.

پنځم- په هغې سره شديد درد رامنځ ته کيږي چې هغه په دريې ځيزونو کې جواز لري او بس: په منفعت (ګټـه لرلو)، عقـوبت (جزا ورکـولو) او وجوب کې. څرنګه چې اول او دوهم نشته نو ځکه دريم (وجوب) دئ.

شپږم- خـتنـه کـول لدې کـبله واجب دي چې د دين شـعـار دئ او د هغـې په وسـيله مسلمان له کافر څخه پيژندل کيږي.

علامه ابن قيم جوزي په «تحفة المودود» کتاب کې پنځلس دليله د هغه د وجوب په هکله ذکر کړي او موږ له هغې جملې څخه له ابن حجر څخه را نقل کړل. وروسته بيا ابن قيم د هغو کسانو دلايل چې واجب يې نه بولي په تفصيل سره ردوي.

ابن حجر وايي: «بيهقي نقل کوي چې تر ټولو قوي دليل د ابوهريره حديث دئ چې په بخاري او مسلم کې ذکر شوى او هغه دا چې حضرت ابراهيم خليل الله په اتيا کلنۍ عمر کې ځان په تيشـه ختنه کړ» الله (ج) فرمايي: ﴿ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إبراهيم ﴾ (النحل: ۱۲۳) يعنې موږ تا ته وحى وکړه چې د ابراهيم د دين متابعت وکړه. له ابن عباس څخه روايت دئ چې کوم اوامر او کلمات چې حضرت ابراهيم باندې نازل شوي ؤ عبارت ؤ د فطرت له خصلتونو څخه، چې له هغو جملې څخه يو ختنه کول ؤ ګرفتاري او د چاريدل په هغه څه کې راځي چې واجب وي.»

ابن حجر له ماوردي څخه نقل کوي چې وايي ويل « داکار حضرت ابراهيم(ع) په دې عمر کې دخدای(ج) په امر وکړ. » وروسته بيا ابن حجر وايي چې : « ابوالشيخ د موسیٰ ابن علي ابن رباح له خوا له خپل پلار څخه روايت کوي چې ابراهيم(ع) په داسې حال کې چې اتيا کلن ؤ امر ورته وشو چې ختنه وکړي نو هغه په ډيره بيړه او چټکۍ سره په تيشه ځان ختنه کړ. درد يې شديد شو او خدای(ج) ته يې دعاء وکړه. خدای(ج) ورته وحی راوليږله چې مخکې لدې چې زه يې په آلت يا سامان درته امر وکړم بيړه دې وکړه.نو حضرت ابراهيمؑ وفرمايل ما ستا په امر کې ځنډ کول ناوړه او مکروه وبلل او ومې نه غوښتل تر څو ستا د امر په عملي کولو کې ځنډ او تأخير پيښ شي. »

دابراهيم خليل الله پيروانو او اتباعو هم دهغه پيروي وکړه او دغه کار يې وکړ. داسلام نه مخکې عربانو هم لدې نه پيروي کوله ځکه چې هغوی دحضرت ابراهيم(ع) ددين بقايا وو ته پايداره ؤ چې حج هم له هغې جملې څخه ؤ.

ابو شامه وايي: « قلفه دعربو په نزد ناپاکه څيز بلل کيده او نه ختنه شوي کسان به يې پخپلو اشعاروکې غندل، ختنې کولو هغو ته قدر درلود او پدې اړوند به يې ميلمستيا وې او خوښۍ کولې اسلام هم هغه برقراره وساته او منع يې نکړ. »

ختنه کول په مسلمانانو کې رواج دئ او له يوه نسل څخه بل ته په ميراث وړل کيږي چې دا کار غير له واجب څخه په بل شي کې امکان نلري.

علامه ابن حجر دعلما وو له نظره دختنې حکم داسې لنډيز کړئ:

« امام شافعي او جمهور صحابه هغه واجب بولي او وايي چې که چيرې يو کاهل نارينه ايمان راوړي تر څو ختنه ونکړي، مسلماني يې نه بشپړيږي.

له امام احمد او ځنې ماليکيانو څخه يې وجوب نقل شوي ....

ابو حنيفه هغه واجب بولي نه فرض. »

امام نووي وايي چې دامام مالک او اکثرو علما وو په نزد هغه سنت دئ.

ابن قیم جوزي وایي چې «فقیهې په هغه کې اختلاف لري، امام شعبي، ربیعه، اوزاعي، یحیٰ ابن سعید انصاري، مالک، شافعي، او احمد هغه واجب بولي. امام مالک تردې اندازې تشدد کوي چې وایي: څوک چې ختنه ونکړي امامت او شهادت یې نه منل کیږي....

ډیر علمأ له امام مالک څخه دهغه سنتوالئ نقلوي حتیٰ قاضي عیاض وایي چې ختنه کول دامام مالک او اکثرو علماوو په نزد سنت دي لیکن هغوې وایې چې انسان دسنتو په ترکولو سره گناهگاریږي او سنتو ته یې دمستحبو او فرضو ترمنځ درجه ورکړې. که چیرې داسې نه وای نو امام مالک هومره نه ټرگندُل چې دنه ختنه شوي کس امامت او شهادت جواز نلري.

حسن بصري او ابوحنیفه وایي: فرض نه بلکې سنت دئ او ابن موسیٰ داحمد له اصحابو څخه هغه مؤکد سنت بولي» .

ابن قدامه په «مغنی» کتاب کې وایې: «ختنه کول دنارینه وو په حق کې فرض او دښځو په حق کې عزت او مکرمت دئ، او پر ښځو لازم نده، دا دډیرو علماوو خبره ده، وروسته بیا وایي که چیرې یو کاهل یا لوی نارینه مسلمان شي او په ختنه کیدو کې له خپلې مړینې څخه وویریږي نو له هغه څخه ساقطیږي ځکه که چیرې څوک دهلاکت خطر ولري نو غسل او اودس هم ورڅخه ساقطیږي دابنه او غوره توجیه کیدائ شي.

کوم نظر چې مونږ ورته ترجیح ورکوو داده چې **پر نارینه وُو واجب** (فرض) ده، البته **دهغو دلائلو** پر بنسټ چې لري یې او ځنې یې مونږ مخکې بیان کړل. خو که څوک مسلمانیږي او په ختنه کیدو کې له مړینې څخه ویره او خوف لري نو دا واجبیت ترې ساقطیږي. **په هر حال هغه داسلام دصحت او دعبادت دصحت شرط نه بلل کیږي.**

یوشمیر علمأ هغه داسلام شعار بولي او که دیوه ښار اوسیدونکي هغه ترک کړي نو امام دهغو پرضد محاربه کوي لکه چې دآذان په ترکولو سره دهغو په ضد دامحاربه صورت مومي.

روغتیایي لارښوونې

دروغتیایي زده کړو لړۍ د دیني تعلیماتو په رڼا کې

٨

د شریعت حکم

دهلکانو او نجونو په ختنه یا سنتولو کښې

لیکونکئ

ډاکټر محمد بن لطفی صباغ

درياض په پوهنتون کې داسلامي درسونو استاذ

نړیواله روغتیایي اداره

دختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر

روغتیایي لارښوونې

دروغتیایي زده کړو لړۍ ددیني تعلیماتو په رڼا کې

د شریعت حکم

دهلکانو او نجونو په ختنه یا سنتولو کښې

لیکونکئ

ډاکټر محمد بن لطفی صباغ

دریاض په پوهنتون کې داسلامي درسونو استاذ

نړیواله روغتیایي اداره

دختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر

۱۹۹۵

دکتاب نوم : دشریعت حکم دهلکانو او نجونو په ختنه یا سنتولو کښې

خپروونکی : نړیواله روغتیایي اداره، دختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر

دری ژباړونکئ : پوهاند نعمت الله شهراني

پښتو ژباړونکئ : پوهندوی ډاکتر بشیر نورمل

کمپیوتر کوونکئ : امام الدین

تیراژ : ۲۰۰۰ ټوکه